UNAMA
دفتر هیئت معاونت سازمان ملل متحد در افغانستان
دفتر ارتباطات استراتیژیک و سخنگوی، کابل، افغانستان
مطبوعاتی بیانیه
http://unama.unmissions.org

**په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) په ټاکنو کې د ونډې اخیستلو د حق پخلی کوي**

**کابل، د مارچ ۱۲، ۲۰۱۴-** په داسی حال کی چی په افغانستان کې د نوي ولسمشر او د ولایتي شوراګانو د غړو ټاکنو ته ۲۳ ورځې پاتې دي، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) په ټاکنو کې د ټولو وګړو د ونډې اخیستل د یوه بشري حق په توګه پخلی کوي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي او د یوناما مشر یان کوبیش وویل: "د نړۍ د ټولو اوسیدونکو په توګه د افغانستان نارینه او ښځینه دا بنسټیز حق لري، چې په خپلواکه توګه خپل حکومت او مشران پرته له ګواښ او ډاره وټاکي. دغه ډول ونډه اخېستنه د افغانستان لپاره د دې له امله زیات ارزښت لري، چې د تاریخي ټاکنو لپاره چمتو کیږي، چي هغه به د هیواد راتلونکي تګ لوري په شکل ورکولو کې د مرستي لپاره خورا زیات اهمیت ولري."

افغانستان هوډ لري چې د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو لپاره ټاکني د وري په ۱۶ نېټه تر سره کړي.

د هیواد اساسي قانون تسجیل کړې ده چي " د افغانستان ا تباع د انتخابولو او د انتخابیدلو حق لري " چي داد هېواد داتباعو یو له بنسټیزو حقونو څخه دی.

افغانستان همدارنګه په ۱۹۴۸ کې د بشري حقونو د نړیوالي اعلامیې په ګټه رایه ورکړې، چې په نوموړې اعلامیه کې راغلي دي: "هر څوک حق لري، چې د خپل هیواد په حکومت کې ونډه ولري؛ په مستقیم ډول او یا په ازادانه ډول د خپلو غوره شوو استازو له لارې،" او دا چې "هر شخص په خپل هیواد کې عامه خدمتونو ته د لاس رسي برابر حق لري."

---

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**